مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۸/۲۸

# لنډی، د ثبتولو ستونزه

## شپږ اتیایمه برخه

**مرګیه! لیرې رانه ګرځه**
**ژبه مې مه تړه وطن پرې یادومه**

**وطن په سوله ابادېږي**
**جګړه دې ورکه شي ملکونه ورانوینه**

**لکه د واورې ویلې کېږم**
**د وطن غم مې د ژوند ورځې لنډوینه**

**په نا څاپې مرګې به مړ وي**
**د وطن غم به یې زاره چولې وینه**

د لنډیو د شکل او محتوی په باب له پخوا زمانو څخه ډول ـ ډول نظریات وړاندې شوي دي او هر قلموال د لنډیو د موشوعاتو په باب خپلې اخیستې وړاندې کړې دي. کلونه وړاندې مې د لنډیو په هکله په تاند کې د اغلې نعیمه غنې یوه مقاله لوستې وه، هلته د لنډیو په باب نعیمه

نعیمه غني داسې لیکلي وو:

«لنډۍ دپښتو د ادبیاتو یوه ساده او په زړه پورې برخه ده چې هر پښتون او پښتنې دخپل زړه حال په کې له کوم قید او شرط پرته بیان کړی دی او دخپل هر ډول خیال هنداره یې بللې دي ان تر ددې چې د دودیزو روا او ناروا رواجونو، اندونو، خیالاتو او تصوراتو بیان یې د رانغښتو مفاهیمو په ډول د همدې لنډۍو په مرسته کړې .او دا یې اړینه نده ګڼلې چې دامفاهیم دې تفسیر کړې ښایي چې د لنډۍو ویونکې به په دې اند وو، چې دا د هغوی د زړه خبره ده چې شاوخوا خلک یې درک کولی شي او نور یې په اوریدلو اړ نه دي مګر دا چې د هغوی د زړه خبره به د ډیرو نورو د زړونو په خبره بدله شي او کلونه وروسته دې هغه لنډۍ د نورو له خوا وویل شي، یا هم دا چې هغه انګیرنې او کړنې چې دوی دومره ټینګ باور پرې لري، هغه دې یو وخت خلک ونه پیژني او هغه دې ورته په یوبې تفسیره او پیچلې مفهوم بدل شي دوی ته معلومه نه وه خو اوس مهال که یوو څوک دپښتنې ټولنې نه پوره مطالعه ونه لري او له دودیزو او د خلکو له خوا منل شو اندونو ،شګونونو، کړنو، انګیرنو او باورونو سره په بشپړه توګه پیژندګلوي ونه لري نو دځنې دې ساده اشعارو تعبیر به ورته یوه پیچلې معما جوړه شي...»

اغلې نعیمه غني د لنډیو په باب د خپلو نظریاتو په لړ کې په موضوع پورې اړوند د لنډیو ډېرې ښې او غوره بېلګې هم وړاندې کړې دي، یو څو بېلګې یې دا دي:

په سر مې سور سالو سوری شو
د مسافر لالي په سر دې خیر وینه

په سږنۍ تبه مړ مه شې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خلک به وايي چې ليلا ده بد شاګومه

په مازديګردې کډې بار کړې
په مازديګر د ګنهکارو کډې ځينه

او دا هم د دې برخې له پاره څو نورې نوې او پخ زړه پورې لندۍ:

مرګيه! ليرې رانه ګرځه
ژبه مې مه تړه وطن پرې يادومه

جانانه څنګه تس مې درکړ
ته مې مين کړې زه کراره کېناستمه

وطن پۀ سوله ابادېږي
جګړه دې ورکه شي ملکونه ورانوينه

کابل ته مه وايه چې وران شي
دا چې ورانېږي زما زړۀ ورسره چوينه

لکه د واورې ويلې کېږم
د وطن غم مې د ژوند ورځې لنډوينه

د وطن غمه غوټ دې مات کړم
بيا چې څو ځان راټولوم خاورې به يمه

په نا څاپې مرګې به مړ وې
د وطن غم به يې زاره چولې وينه

لالي مې بايلودم په مفته
د بې وسۍ زور مې رګونه سوځوينه

له ځانه بوی د جانان راغی
په ځان مې شک د خپل جانان راغی مئينه

کور که د غره پر سر کې جوړ کړې
چې غل د خپله کوره وې تالا به شينه

پاس په هوا راشه جانانه
لارې کوڅې له طالبانو ډکې دينه

په سر مې سور سالو سوری شو
د مسافر لالي په سر دې خير وينه

په سږنۍ تبه مړ مه شې
خلک به وايي چې ليلا ده بد شاګومه

په مازديګردې کډې بار کړې
په مازديګر د ګنهکارو کډې ځينه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ